شهادت
ارګان مرکزی حزب اسلامی افغانستان
چهارصفحه
نمبرمسلسل (۱۲۳۷) سال نزدهم شمارهٔ (۱۴۵) سه شنبه (۱۷) میزان ۱۳۷۵ هـ ش - (۲۶) جمادی الاول ۱۴۱۷ هـ ق (۸) اکتوبر ۱۹۹۶ م

دایران راديو درپوټ په اساس :

دمسعود دځواکونو دچریکی حملو په نتیجه کی طالبانو دګلبهار دښار کنټرول له لاسه ورکړی دی

دطالبانو ځواکونه دجبل السراج ترځنډو پوری په شاشوی او ۱۵۰ تنه یی له لاسه ورکړی

پروان - دتلي ۱۶ مه :
داحمدشاه «مسعود» دځواکونو دیوي حملي په نتیجه کـي د طالبانو ځواکونه دجبل السراج دښارځنډوته په شاه تنبول شوي دي .
دتهران راديو دخبر پـه حواله ويل کيږي چـي : ورمه شپه د احمدشاه «مسعود » ځواکونو ديـو سيمه ايزقوماندان نورحبيب ترقوماندي لاندي دګلبهار په سيمه کي دطـالـبانو په ځواکونو چي دپنجشير په جګړه کي ني يوه ورځ وړاندي ماتي خوړلي وه غيرې منظمې اوچريکي حملي پيل کړي چي په نتيجه کي ئي دطالبانو ځواکونه دګلبهار دښارګوټي څخه دجبل السراج دښارترڅنډوپوري پــه شاه تنبولي دي اواوس دطالبانو ځواکونه دجبل السراج د ښار پــه شاوخوا غونډيوکي دمدافعي په حالت .کي پراته دي . دجبل السراج ښارچي دکابل څخه د۹۰ کیلومتره په فاصله شمال لوري ته واقع دي دطالبانو په دفاعي سنګريدل شوي دي .
منبع زياتوي چـي : دګلبهار دښاردکنټرول پــه سر دمسعود او طالبانو دځواکونوترمينځ په وروستيو جګړو دطالبانو ځواکونوته زيات مالي اوځاني تلفات رسـيدلي دي . يوي

پاتی «۴» مخ «۲» ستون

الهی لاربوونی

ا - ل - رٰ : اي پيغمبره ا دايو کتاب دي چي موږ ستالوري تـه نازل کړي دي، ترڅوچي ته خلك له تروږميونه راوباسي رڼا ته يي راولي، دهغودرب په توفيق سره ،دهغه خداي (ج) لاري ته چي زورورادپه خپل ذات کي په خپله ستايل شـوي دي اودځمکي اوآسمانونو دټولو هستيو څښتن دي، اوسخته تباه کوونکي سزاده دهغوحق نه منونکو له پاره چي ددنيا ژوند ته په آخرت باندي ترجيح ورکوي، دالله له لاري نه خلك منع کوي اوغواړي چي دغه لاره کږه شي. دا خلك په ګمراهي کي ډير لري تللي دي .
(ابراهيم - ۱ - ۳)

به نوشته اکانومست :

امریکا خواهان استقرار حکومت مورد نظر خود در افغانستان است

مذاکرات تهران واسلام آباد درمورد افغانستان تاکنون بی نتیجه بوده است

. کابل - ۱۶ میزان :
امریکامصمم است که ګروه طالبان تمام افغانستان را درکنترول خود درآورده ، باازمیان برداشتن پروفیسور رباني ،انجنيرحکمتيار، احمدشاه مسعود وجنرال رشيد دوستم منافع خودرا دراين کشورتامين نموده وموانع

بقیه درستون «۵» صفحه «۴»

متقاعد جنرال حمیدګل له «تکبیر» اونیزی سره په مرکه کی:

طالبانو ته ستر مسئولیت ورپه غاړه دی چی باید افغانستان له تجزیی څخه وژغوری

طالبان باید داعتدال اوتوازن په خپلولوسره دملی تفاهم په لاره ګام کیږدی

زه ګومان نه کوم چی دطالبانو تر واکمنی لاندی افغانستان کی به ظاهرشاه کوم نقش ولری

دنجیب اعدام وښوده چی طالبان په خپله دپریکړی استعداد لری

(۲)مخ

دطالبانو د مؤقتي شورا غړی ملامحمد غوث :

که له جنرال دوستم سره مذاکرات ناکام شی ، طالبان به دشمال په بی وسلی کولو لاس پوری کړی

جنرال دوستم دی دخپلو ځواکونو وسلی طالبانو ته وسپاری اوپه حکومت کی دی برخه واخلی.

مونږ چی کوم شرایط ربانی ، حکمتیار اومسعود ته وړاندی کړی جنرل دوستم سره به هم هماغسی رویه وشی

کابل - دتلي ۱٦ مه :
که چيري دجنرال دوستم سـره مذاکرات نتيجه ورنکړي طالـبان به دنوموړي پــه ځواکونوحمله وکړي اودنورهيواد پــه څيرپه شمال هم بي

پاتی «۴» مخ «۷» ستون

هیئت نظامی هند روانه مسکو شد

مسکو :
يك هيئت نظامي هند تحت رياست روي چودري لوي درستيز نيروهاي اين کشور به منظور انجام سفر پنج روزه روانه مسکو است .
آژانس خـبري فرانسه به نقل از انترفکس خـبرګزاري رسمي روسيه روزيکشنبه ګزارش ميدهد قرار بود اين هيئت دوشنبه (ديروز) وارد مسکو شود.ګزارش به نقل ازمنابع وزارت دفاع روسيه حاکيست ، قراراست

بقیه درستون «۴» صفحه «۴»

دطالبانو مشر ملامحمد عمر «آخند» دیوی اعلامیی په ترځ کی :

دکابل ښاریان باید له نوموړی ښارڅخه ونه تښتی

په بهرنیوهیوادونوکی سفیران اودیپلوماتان باید هیواد ته راستانه شی

کابل - دتلي ۱٦ مه :
دطالبانو له خواپرکابل باندي ترقبضي وروسته دنوموړي ښار څخه په زرګونو ښاريان تښتيدلي دي .
دنړيوالو خبري منابعو په حواله ويل کيږي چي : وروسته له دي چي طالبانو دکابل ښارنيولي اوپه نوموړي ښار کي ني يولړقوانين دهاريه ښځو اوترو باندي وضع کړي دي، کابل ښاريان دطالبانو دنوي چال چلند څخه په ويره کي دي اودنوموړي ښارڅخه تخاونه ياسي .

پاتی «۴» مخ «۶» ستون

استاذ ربانی په بغلان کی د ورور حکمتیار اودحزب له یوشمیر قوماندانانو سره وکتل

په پلخمری کی داستاذ ربانی اوسید منصور «نادری» ترمنځ دګډی جبهی په جوړیدو خبری وشوی

بغلان - دتلي ۱٦ مه :
دافغانستان جمهورريئس استاذرباني په بغلان کي دهيواد له صدراعظم اودحزب اسلامي له يوشميرقوماندانانو سره وکتل .
دنړيوالوخبري منابعو په حواله ويل کيږي چي : استاذ رباني چي دشمالي ولاياتوڅخه په لنډه بوخت دي پرون ني دبغلان په ولايت کي له وروو حکمتيار اودحزباسلامي له يوشميرقوماندانانو سره وکتل اودهيواد په روانو حالاتوئي خبري وسره وکړي

پاتی «۴» مخ «۱» ستون

آیت الله خامنه یی دشیعه مذهبوملایانو په یوه غونډه کی :

دطالبانو قوانین دنړیوالو نورمونو اوموازینو سره بشپړ مغایرت لری

تهران - دتلي ۱٦ مه ؛
دايران مذهبي مشر پــه طالبانو غيرمستقيمه لفظي نيوکي وکړي .
دنړيوالو خبري منابعوپه حواله ويل کيږي چي : دايران داسلامي جمهوريت مذهبي مشر آيت الله خامنه اي پرون په تهران کي دشيعه مذهبو ملايانو په يوه غونډه کـي دخبروپه ترځ کي په طالبانوباندي لفظي حـمله وکړه او دطالبانوغورځنګ ئي يوغيراسلامي حرکت اويومتعصب غورځنګ وباله .
نوموړي وويل :« دايران په يوګاونډي هيواد کي داسي يـو نوي حرکت پيداشوي چي اسلام بدناموي اوپه همدي خاطرئي دامريکايانو لخوانه حمايت کيږي ». کـه حـه هم دايران دغي

پاتی «۴» مخ «۴» ستون

قرغزستان له تاجکستان سره خپله پوله وتړله

پرونزه - دتلي ۱٦ مه :
قرغزستان دتاجکستان سره خپلي پولي وتړلي .دنړيـوالو خبري منابعو په حواله ويل کيږي چي : دقرغزستان جمهوريت دتاجکستان سره خپلي ګډي پولي ته قرغزي اوروسي عسکرليږلي اودغه پـولـه ئي تړلي ده .
پرون دقرغزستان د جمهوررئيس مرستيال کاني بيګ امان علي يووف څرګنده کړيده چي : که څه هم طالبان دتاجکستان له پولو څخه ډيرليري دي خودقرغزستان جمهوريت دنوموړي دلي ورورستيو پرمختګونوله انديښني

پاتی «۴» مخ «۲» ستون

ملامحمد غوث له رویترآژانس سره په مرکه کی :

داسی ښکاری چی جنرال دوستم اواحمد شاه مسعود دطالبانو پرضد سره یو لاس شوی دی

احمدشاه مسعود که طالبانوته تسلیم شی کیدای شی په حکومت کی ورته ځای ورکړشی

کابل - دميزان ۱٦ مه :
په کابل کـي د طالبانو دواکمني دبهرنيو چـارو دوزارت کفـيل ملامحمدغوث اخوند لـه جنرال دوستم اواحمدشاه مسعود څخه غوښتنه وکړه چي دطالبانوځواکونوته تسليم شي .
ملامحمدغوث چي درويټر له خبري آژانس سره يي مرکه درلوده څرګنده کړه چي داسي ښکاري چي جنرال دوستم اواحمدشاه مسعود دطالبانو په مقابل کي دګډي همکاري پريکړه کړې .
ملامحمدغوث دخپلو خبرو په دوام زياته کړه چي که احمدشاه مسعود طالبانوته تسليم شي، خوهيڅ تاوان به ورته ونه رسيږي . اوکيداي شي چي په حکومت کي ورته برخه ورکړل شي .
ملامحمدغوث داخبري پداسي حال کي کړي چي ترډي يوه ورځ وړاندي جنرال عبدالرشيددوستم ديوي اعلاميي په ترځ کي ګواښ کړي وو چي که طالبان جګړه بنده نکړي، نودده ځواکونه په دهيوادوالو دژغورلولپاره دجګړي ميدان ته راووزي .

پاتی «۴» مخ «۵» ستون

عزیزمراد سخنگوی ریاست جمهوری درمصاحبه با بی بی سی :

تلاش داریم تا یک جبهه وسیع سیاسی تشکیل دهیم

اگرظاهرشاه نقش مثبتی ایفا کرده می تواند ،مانعی برایش وجودنخواهد داشت

مزارشريف - ۱٦ سنبله :
عبدالعزيز مراد سخنګوي رئيس دولت ، ضمن مصاحبه باراديو بي بي سي اظهار داشت : تـلاش جريان دارد تاهمه نيروهاي کـه طرفدار استقلال وآزادي اند باهم نزديك ومتحد شوند و دريك صف واحد براي نجات وآزادي کشور به تلاش خود ادامه بدهند .

بقیه درستون «۳» صفحه «۴»

افراد مسلح طالبان درحال تعرض روزيك شنبه برپنجشير سومين تعرض گسترده طالبان بر اين منطقه ناکام شده وهنوز نتوانسته اند به داخل دره نفوذ نمايند

مردم صلح می خواهند ولی بادیکتاتوری مخالف اند

طالبان در روش خود تجدید نظر کنند

صدیق مومند

پشاور - ۱٦ ميزان :
داکترصديق «مؤمند » يـك عضو برجسته حرکت انقلاب اسلامي برهبري مولوي محمد نبي «محمدي» در مصاحبه اي باروزنامه «وحدت » چاپ پشاور اظهارداشته که افغانستان درحال حاضربه ميدان جنګ هاي ستراتيژيك وبازي سياسي مبدل ګرديده وکشورهاي بيګانه هر يك خواهان برآورده شدن اهداف شان درافغانستان مي باشند .
عضوشوراي حرکت انقلاب اسلامي علاوه کرد همين دسايس شوم بيګانګان بود که پـس از پيروزي

بقیه درستون «۲» صفحه «۴»

مابه طالبان پیامی درمورد حفظ حقوق زنان فرستاده ایم

بی نظیربوتو

نيويارك - ۱٦ ميزان :
پاکستان هيچګونه مداخـلـه اي درامورداخلي افغانـستان نـدارد، ماهميشه درقبال اوضاع افغانستان بي طرف بوده وهستيم ، ميان سياست ما وطالبان ، تفاوت بسيارزيادي وجود دارد .
بي نظيربوتو صـدراعظم پاکستان

بقیه درستون «۱» صفحه «۴»

هیئت پاکستانی در راه سفر به سه جمهوری آسیای میانه واردتاشکند شد

بعداز پایان سفراین هیئت ،رئیس جمهور پاکستان عازم آسیای میانه می شود

اسلام آباد :
بينظيربوتو صدراعظم پاکستان جلال حيدر زاهـدي رابه آسياي ميانه فرستاده تاباسران جمهوري هاي تاجکستان، ازبکستان وترکمنستان در مورد مسئله افغانستان ګفتګو نمايد .
به ګزارش روزنامه «نيوز» ، افغانستان (۱۹۰۰) کيلومتر سرحد

بقیه درستون «۱» صفحه «۴»

شهادت

ارګان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان

صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان

مؤسس : انجنیرحکمتیار

ناشر : ریاست ارشادوفرهنگ

تحت نظر هیئت تحریر

تلیفون : ۲۵۶۳۷۸۹

آدرس پستی : ۱۰۳۶ یونیورستی تاون -پښور

طالبانوته ...!

شاید ډیرراباندې دسادګانو ګـومان وکـړي ، چې نـن مورږ طالبانوتـه دنرمښت اوروغې جـوړې د روش دخپلولو خبره کوو اوداورته وایو چې ددوی دټول قوت باوجود وروستی لارداده چې دزور داعمال ، احساساتو، ذهني ګرائي اوبواځې تربښې لانـدې مځکې دلیدو لـه روحیې ځانونه وباسي، د«انحصار» تګلاره پـریـږدي ، دمطلقې واکمني اوقشریالنې له رجحان نه تیرشي اودټولو یا اکثریت دقناعت اورضایت دترلاسه کولو هڅه وکړي .

ډیربه حتماً دافکر وکړي چې کله مورږ لـه طالبانو نه په داسي وخت کې داغوښتنه کـوو چې کابل ئـې نیولي او دسالنګونو دتونل پـه خوله کې ولاړدي نـواصلاً مـورږ غیرواقعي اوغیرعملي سوچ اوتحلیل کـوو اومځکې له دي چې طالبانوته ذهني ګراووایو، مورږ پـه خپله پـه افراطي ذهني ګرائي اخته یو .

ددي کسانو داستدلال اساسي ټکې شاید داوي چې عملاً ګورو چې طالبانو لـه خپلو دې ټولونیمګړتیاوو سره سره بو«فاتح » او « غالب» قوت دې اودطرحو، نظریو اوسیاسي تجربو اوپس منظرونوددرلودومدعیان ئې په وړاندي یوپه بل پسي ماتیږي .

مګرحقیقت دادي چې اصـلاً «فتحه دمقابل لوري پـه کمزوري کې نه بلکې په خپل قوت کې نغښتې ده » .

دطالبانو له خوارواني ایجاد شوي پیښي نسبت دي ته چې ډیرې ددوي دکمال اوقوت نتیجه وي دهغوي پـه وړاندي دواقع قوتونو دکمزوریواوغلطیو محصول ده .

په دي علاوه بله موضوع داده چې دبهرنیو سیاستونو اولویوطاقتونو دریځونه دبیلابیلو موقعیتونو اوحالتونو په پام کې نیولو سره نوسان مومي، اوږي رااوړي اومعلومه نه ده چې په راتلونکي کې ددي طاقتونو دموضعګیریو اوکړووړو جهتونه څه ایجابوي ، له طالبانوڅه غواړي، دهغو موقعیت څومره اغیزمنوي اوبالاخره خپلو متحدینوته دڅه کردار اجازه ورکوي اودکوم عمل اجازه تري سلبوي .

له بلې خـوا دبیلابیلو شرایطـو اوپـړاونو غـوښتنې اوقابلیتونه جلاجلا وي . واضـح ده اوډیره زیاته واضـح ده چې کومه مرحله راتلونکي ده طالـبان دهغې دچلینجـونو دمقابلې لازم استعداد اوکفایت پـه هیڅ توګه نه لري .

مورږ منوچې استعمار ډیرهوښیاردي دطالبانو پـه اذهانوکي په عجیب اوغریب ظیفونه ایجاد کړي چې قضایا، واقعیتونه اواحتمالات ورته بل ډول وښئي، مګرکه احـیاناً دوي له دي مصنوعي ذهني حالت نـه ووځي ، اودموضوعاتو عمق ته متوجه شي نو حتمي پریکړه به ئې داوي چې له مجاهدینوسره ئې دواقعي تفاهم اوروغي جوړي دلارې په انتخاب کي دسعادت لوي راز پروت دي.

طالبانو ته ستر مسئولیت ورپه غاړه دی چې باید افغانستان له تجزیې څخه وژغوري

دپاکستان دپوځي اطلاعاتي اداري (I.S.I) پخواني مشرمتقاعد جنرال « حمید ګل » پرکابل باندې دطالبانو ترکنترول وروسته دکراچي ئـه خپرېدونکي مشهـوري اونیـزي « تکبیر» سـره دافغانستان پـه حالاتومرکه کړې چې دادي په لراختصار ددې مرکې پښتوژباړه ګرانولوستونکو ته وړاندې کوو .

« اداره »

پوښتنه : جـنرال صاحـب ! ستاسي اوشاید دډیرو نورو دتوقع خلاف ،طالبان کابل ته ننوتلي دي، تاسي په افغانسـتان کې راڅرګنده شوي دغه دراماتیکې تبدیلي تـه پـه کوم نظرګورئ ؟

ځواب : داسمه ده چې ماویلي وو کابل « ته تسخیرکیدونکې » دي . اوزه اوس هم په خپله دې خبره ولاړیم چې که پرکابل باندې مسلط پوځ په پوره دول مسلح وي اوله کابل څخه ددفاع اراده هـم ولري . نو کابل دخپل جغرافیایي موقعیت پـه لحاظ ترډیره حده « نه تسخیرېدونکې » دي . خو زه پرکابل دطالبانو دتسلط په هکله دپوځي لحاظه کومه تبصره نه کوم، هغې ته یوه معجزه ویل کیداي شي ، ترکومه ځایه چې پدي بدله شوي وضعه باندې په تبصره پوري اړه لري، هغه زه لږ تروخت مځکې ګنم . دسولې اوامنیت په هکله دابتدایي اقداماتونه وروسته به دطالبانو پراخه تدابیر اوسیاستونه راڅرګندیږي . پدې کې شك نشته چې پرکابل باندې ترتسلط وروسته طالبانو قـوي موقف ترلاسه کړي، داسلامي روایاتو مطابق هغوي باید دخپل لوړموقف او پوزیشن په احساس سره داعتدال اوتوازن لاره خپله کړي، اوپه ډیره هوښیاري سـره دي دملي تفاهم عمل پیل کړي .

پوښتنه : ستاسي پـه نظر له جنرال دوستم اوجهادي مشرانو سره به دطالبانو رویه څه ډول وي ؟

ځواب : دجنرال دوستم په هکله خپله طالبانوهم نرمه رویه څرګنده کړي ، اوله هغه سره ددوستانه اړیکو خبري کوي، طالبان وایي چې دوستم اوس کمونست ندي، لمونځ کوي اوددین طرف ته مایل دي. هغه معاف کیداي شي. خودجهادي مشرانو په هکله بیا هغوي داسي ئیك نظر نه څرګندوي، حتي له څینو بیانونو څخه خوداهم څرګندیږي چې طالبان ددغـه مشرانو پـه هکله ترخه احساسات لري، زه ګومان کوم چې دڅو ورځو ترتیریدو وروسته په حالات لږ نورمال شي، اوطالبان په ساړه زړه دحالاتو پـه هکله غـورروکړي، نودغه ترخه احساسات به ختم شي .

سمه ده چې په تیرو دووکلونوکې دجهادي تنظیمونو دمشرانو اوطالبانو ترمینځ څه تړاکتونه راولارشوي وو، خوکابل ترفتحې وروسته هغوي یو قوي اوطاقتور حیثیت ترلاسه کړي ، او ددي توان لري چې خـپله خبره په چاومني . ددي موقف سره سره که هغوي دتصادم او کشمـکش لاري خوښوي، نودابه دافغانستان ډیره بدقسمتي وي. ځکه افغانان جګړه ایز مزاج لري، اودزور زیاتي په وړاندې ډیرسخت دریځ غوره کوي، لدې امله خداي ناخواسته کـوم عکس العمل راولاړیداي شي .

پوښتنه : له عکس العمل څخه ستاسي هدف څه دي ؟

ځواب : پرکابل باندې دطالبانو دکنترول سـره سره ، اوس هم ډیري سیمې د استادرباني، یاد هغه دپلویانو په کنترول کي دي .دپنجشیر پـه ګډون دپروان ولایت پراخه برخـه (ددي مرکي دنشرتروخته چاریکار اوجبل السراج دطالبانو له خوانه ونیول شوي « ژباړن»)

بدخشان ، تخـار اوکندز له هغوي سره دي، دبامیانو په ولایت دکریم خلیلي ترمشري لاندي وحدت اسلامي ګوند کنترول لري، چې داستادرباني اتحادي دي . ددي یادوشویو سیموڅخه بدخشان اوکندز لـه پوځي لحاظه دیراهمیت لري، ځکه دبدخشان پولې له چین ، پاکستان اوتاجکستان سـره پیوستې دي، همدارنګه دکندز سرحد له تاجکستان سـره تړلي دي ، اوافغانستان له تاجکستان سره وصل کونکي لویه لاره (شیرخان بندر) له همدي سیمي څخه تیریږي ، که پردي سیموباندي دمسلطو ځواکونو اوطالبانو ترمینځ دتفـاهم اوهماهنګي فضاء پیدانشي ، نو هروخت چې وي دفـساد اوفتنې اور بلیداي شي . ددي یوارخ داهم دي چې طالبان بـه لدوي څخه دامریکا دسرپرستي تور دغلط ثابتولو لپاره له جهادي قوتونو سره نرمه رویه خپلوي .

پوښتنه : لــه کابل څخه دوتلو جهادي مشرانودراتلونکي په اره ستاسي نظرڅه دي ؟

ځواب : مامخکې وویل چې ددي خلکوقرباني دافغانستان دآزادي دتاریخ یوه برخه ده . که هغوي دجهاد ترکامیابي وروسته دهغي دثمراتو په راټولولو کي ناکام شوي مطلب یې هیڅ کله داندي چې ددوي په ټولو قربانیو باندي بایـد کرښه وایستل شي. که طالبان نـه غواړي هغوي دخپل انتظامي پـه چوکاټ کي راولي، نو هغوي دي په یومشاورتي چوکاټ کي ضرور له ځـان سره ورګډ کړي، زماپه ګومان جهـادي مـشران به هم دنویو حالاتو په اساس مهمې پریکړي وکړي

پوښتنه : لـه جنرال دوستم سره دطالبانو رویه تاسي په کوم نظرګورئ ؟

ځواب : طالبان دجنرال دوستم په هکله دتیزو احساساتو څرګندونه کوي ، ممکن هغوي واقعاً همداسي غواړي، اوممکن داهغوي دجنګي تدابیرو یوه برخه وي. کیداي شي هغوي دبدخشان له لاري پرشمال باندي دتسلط پیداکولو لپاره وړاندي ولاړشي، دکنر له لاري په بدخشان فشارراوړي ، کـه هغوي په فوري توګه نه غواړي چې جنرال دوستم خفه کړي نولومړي دبدخشان خوانه مخه کولاي شي، اوبیا له هغه ځایه پرتخار اوکندز فشار زیات کړي او دجـنرال دوستم لپاره یوګواښ جوړیداي شي. دجنرال دوستم له وروستیو خبرو څخه ځرګندیږي چې هغه په آساني سره له خپل سلطې څخه لاس په سرکیدوته تیارندي . پداسي حالاتوکې غـوره لارداده چې ټول دمذاکراتو پرمیزراغونډ شي، اودجنګ اوجدل له لاري صرف نظر وکړي . که طالبان نـه غواړي چې ځـه کسان له راتلونکي نظام څخه بهرکړي . نوبیاهم باید دغلبې پرځاي باید هغوي دتفاهم لاره غوره کړي .

پوښتنه : کـه شمال په همدي بڼه دطالبانو لـه کنترول څخه بهر پاتې کیږي ، نو دافغانستان دتقسیم خطرنه پیښیږي ؟

ځواب : فعـلاً خـو دهغې امکان نشته ، ځکه چې هیڅ فرد اوهیڅ تنظیم دافغانستان دویشلو دچیغي پورته کولو جرأت نشي کولاي .

فعلاً دهندوکش غردسیاسي تقسیم کرښه ګرځیدلي، دغره دي خوا(جنوب) ته طالبانو خپل تسلط بشپړکړي، پداسي حال کې چې دغره شمالي لوري ته ولایات دطالبانوله کنترول څخه بهردي چې په هغې کي بدخشان، تخار، کندز، بغلان، سمنګان ،بلخ ، جوزجان، سرپل، فاریاب اودبادغیس ځینې برخې شاملې دي . پدي کي په شپږنیمو ولایاتو باندي دجنرال دوستم ترمشري لاندي ملي جنبش کنترول لري، خو پاتې ولایاتونه درباني اومسعود ترکنترول لاندي دي. که داسیاسي تقسیم ترډیري مودي همداسي پاتې شي نو سازشي عنصارو ته موقع په لاس ورځـي او دهرې خرابۍ دپیښیدو احتمال شته .

روسیې هم دملګروملتوله سازمان څخه غوښتې دي چې طالبان دشمال لوري ته له راتللو نه منع کړي ، روسان ګومان کوي چې دشمال خوانه دطالبانو له پرمختګ څخه دوي ته خطرونه پیدا کیداي شي .

څه نورعوامل هـم داسي دي چې دتجزیې خبري ته هواورکولاي شي. دشمالي سیمو داوسیدونکو فرهنګ اوعنعنات دجنوب لــه خلکوڅخه لږتوپیرلري، دشمال اکثره اوسیدونکي تاجکان دي، پداسي حال کي چې هلته دوهم لوي نژاد ازبك دي، په وړو قومونو کي ترکمن ، اسماعیلیان (کیانیان) ، عرب اوهزاره شامل دي . که څه هم په طالبانوکي ازبك اوتاجك ځوانان هم ګډېږي ، خودهغوي دلومړي صف ټول قیادت دپښتنو پـه لاس کي دي. اوتراوسه چې څـومـره قوماندانانو دطالبانو په ګټه خپلې وفاداري بدلې کړي، هغوي هم ټول پښتانه وو، ځکه نوپدې حالاتو کي طالبانو تـه ستر مسئولیت متوجه دي، چې هغوي افغانستان لــه تجزیه کیدو څخه وژغوري، اومسایل دپوهې اوحکمت له لاري کنترول کړي .

پوښتنه : طالبانو دظاهرشاه په هکله هم دنیکوهیلو څرګندونه کړي اولویدیزقوتونه هغه ته دافغانستان دنوي سردارپه سترګه ګوري پدې اړه ستاسي تحلیل څه دي ؟

ځواب : ظاهرشاه څلویښت کاله پرافغانستان واکمني کړیده ، اوافغانانو چې دروس پرضد کوم ستر جهاد وکړ، دهمدې روسي اثراورسوخ په افغانستان کي دظاهرشاه پـه وخت کي ټینګ شوي ظاهرشاه پـه خپله هم دلویدیز سیستم مینوني او روزني اوسیکولر (غیر مسلماني) ذهنیت حامل دي، ددي پرعکس طالبانو دمحمدي (ص) شریعت دنفاذ شعار اوچت کړي زه ګومان نه کوم چې دطالبانو تر واکمني لاندي افغانستان کي به ظاهشراه کوم نقش ولرلای شي .

دظاهرشاه پـه مشري دمحمدي شریعت دنفاذ هیڅ امکان نشته . ددي تصور هـم خندونکي دي چې ظاهرشاه به د افغانستان د اسـلامي دولت امیرالمومنین کیداي شي .

پوښتنه : دطالبانو ترکنترول لاندي افغانستان اوپاکستان ترمینځ دخپل مینځي اړیکو په هکله تاسي څه فکرکوئ ؟

ځواب : دااړیکي باید دورورګلوي اوخوشګواره وي . خو زه اندیښنه لرم چې په راتلونکي کي پدي اړه ستونزي پیداکیداي شي . ځکه طالبان اسلام په خپل هـماغـه اصلي شکل نافذول غواړي . چې داکار دپاکستان په حالاتو هـم اثرغورځولاي شي ، زه محسوسوم چې طالبان بـه دامریکا فرمانونه ونه مني، ځکـه دا دهغوي

پاتې [illegible] مخ [illegible] ستون

تعـرض
بیاهـم زمـونږ انتخاب

د«دمیتری ګایی» او« واسیلي سنیګروفه» لیکنه — دخیبر ژباړه

یودیرشمه برخه

دافغانستان دنوي مشر په توګه دډاکترنجیب الله دټاکني او د نوموړي دسیاسي هوښیاري په اړه پـه کابل کي دشوروي اتحاد سفیر « تابیووف» داسي وایي : زماپه یاددي چې یوځل په ۱۹۸۳ کال کي کله چې نجیب الله دخاد درئیس په توګه دنده سرته رسوله ، نوموړي دیوي سیمي په سردپلان شویو عملیاتویه رابطـه پوځیانوته دخاددجاسوسانو هغه رپوټونه څرګندول کوم چې دعملیاتو څخه وړاندي له سیمي نه راوړل شوي ؤ . په دغې موقع دافغانستان دوسـله وال پوځ دستر درستیز په عمومي قـرارګاه کي زموږ مشاورنجیب الله ته په ټوکه کي داسي ویلي ؤ :« اې نجیبه، که چیري ستا ورکړل شوي رپوټونه ریښتیا نشول، موږ به له تانه سرغوڅ کړو» . پـه داکترنجیب دمشاوردغه ټوکـه ډیره بده لګیدلي وه . ډاکـترنجیب ما(دشوروي سفیر) تـه راغي اوویې ویل :« زه دخپل ځان په اړه چاته ددغسي ټوکو اجازه نه ورکوم . مهرباني وکړي اوخپل (روسان) وپوهوي . که چیري دي ته ورته خبري بل ځل تکرارشي، زه به خپله استعفي وړاندي کړم ».

تابیووف زیاتوي :« مانجیب ددغي شکایت لــه اوریدونه وروسته هغه مشاورتردي حدپوري خفه کړ، چې بیا وروسته مشاورله مانه دشوروي اتحاد ددفاع وزیره اوستینووف » ته شکایت کړی ؤ .

دکتاب یوتن لیکوال لیکي : موږ څو، څو ځلي دډاکترنجیب الله سره لیدني کړي دي اوباید دنوموړي پـه هکله ولیکل شي : ډاکـترنجیب الله دافغانسـتان دهغـې زمـاني پـه سیاستمدارانو کي ترټولولوړه سیاسي څېره ؤ ، هغه کـسولای شول چې راتلونکي ترغوروالاندي ونیسي اوپخپله پریکړه وکړي .

دنوموړي پـه اړه انتخاب بالکل پرځاي ؤ . خو ... یوځل بیا « زموږ انتخاب » نه دافغان ولس، بلکې زموږ (روسي) انتخاب . یوځل بیاموږ په کابل کي دخپلي خوښي سړي وټاکه . داسي اعـلان شوه چې ګني دافغانستان دخلك دموکراتیك ګوند دمرکزي کمیټي په پلینوم کي « ببرك «کارمل » پخپله خـوښه خپل مقام پریښود اودپلینوم برخوالو دراېوپه اتفاق دهغه پرځاي نجیب الله وټاکه . خوحقیقت داسي نه ؤ اوداهرڅه په دي شکل .

رامینځ ته شوي نـه دي او ددغي پریکړي په اعلان کـي دزور اوجبرنه کاراخیستل شوي ؤ اوزموږ پریکړه تحمیل شوي وه . مخالفینو هم دنجیب الله انتخاب تـه کوم اهمیت ورنکړ. ددي سره سره چې نجیب الله دنوي مشر په توګه دملي روغې جوړې دسیاست داعلان په اړه ګټورګامونه پورته کړل ، خوبیائي هم دملت دیوه مشرحیثیت ونه ګاټه .

نجیب الله دیوي مرکي په ترځ کي چې په همـاغې موقـع ئې دکتاب دیوتن لیکوال سره کړي ده داسي ویلي :« د۱۹۸۵ کال داپریل دمیاشتي له پلینوم حخـه وروسته دشوروي اتحاد نوي مشرتابه په نړیوال ډګرکي یولوي سیاست په کارواچولو . دشوروي اتحاد دنوي سیاست په اخلاصمندي اوصداقت هیڅاباورنه درلوده، ځکـه دهغه هیواد لښکري په افغانستان کي موجودې وې . شوروي اتحاد اوافغانستان کولاي شول چې ترډیري اوږدي مودي پورې جګړې ته دوام ورکړي ، ددي کارلپاره

داکتر نجیب الله

ټول امکانات مـوجـود ؤ، خودڅه لپاره ؟

تاسوولیدل چې تقریباً ټوله نړي ددي جګړې پرخلاف وه . دهر کال په تیریدو سره به دملګروملتونودعمومي ټولنې پـه اسامبلې کـې به زموږ پرخلاف رایې ورکول کیده ټولو به ویل چې افغانسـتان اشغال شوي دي . مهمه داوه چې دغه مسئله (اشغـال) موږته مثله خودهري ورځې پـه تیریدو سره دافغانستان دخلکو علاقه له مخالفینو سره زیاتـیدلـه . واقعي انقـلابي کولاي شي چې تروروستي ګولي پوري وژي وکړي اوجګړي تـه دوام ورکړي ، خوتردې ټولودمخه بایـد دخپلوخلکو په اړه فکروکړي».

د۱۹۸٦ کال داکتوبر په میاشت کي نجیب الله دافغانستان دمشر په توګه یوځل بیا مسکوته راغي .

الکساندراګنیوتوف په مسکوکي دنجیب الله اوګرباچوف درسمي کتني په اړه داسي کیسه کوي ! ګرباچوف نوي افغان لیډرته دخپلوخبرو پـه ترځ کي داسي وویل : « ملي حاکمیـت ته پراختیاورکړي، بالاخره دقومونوسره دمذاکراتوکړل زده کړي، دهغوي له ځانګړتیا وو څخه ګټه واخلي اوهغه په کارواچوي . پـه روحانیونو کي دنفوذ کولو هڅـې وکـړي . دکـیڼ لاسواوچپیانو سره داقتصادي ستونزو په سر له نښتو نه ډډه وکړي اوکوښش وکړي چې په اقتصادي لحاظ دخصوصي سکتورڅخه ملاتړوکړي ».

دمیخائیل ګرباچوف او ډاکترنجیب الله ترمینځ دغوخبرو پـه نژدې موده کي دملي روغې جوړې دسیاست نوم پیداکرواودغه خبري پـه دې توم ونومول شوي .

وروسته بیا دژنیو تړون لاسلیك شو، ددغې ارزښتناك تړون په لاسلیك کي مهم رول دشوروي اتحاد اودامریکا دمتحده ایالاتو ترمینځ داړیکو پراختیا ولوباوه . دافغانستان څخـه دشوروي اتحاد دلښکرو وتل دمسکو دنوي بهرني سیاست یوه برخـه وه ، دکوم له مخې چې بهـرنې سـیاسي پرابلمونه (ستونزي) اوارېدلي .

البته دژنیو تړون لکه څنګه چې لازمه وه همزمانه اوپه یوډول عملي نه شو . حتي یووخت داسي څرګـنده شوه چې دغه تړون دامریکاپه ګټه دي اوله تړون څخـه یوازې امریکایانو فایده واخیسته . دا څرګـندوني

اوشکونه هغه وخت زیات شول کله چې ټولو فکرکاوه چې دادي، جلال آباد سقوط کوي. خوجلال آباد په سیاسي اومعنوي لحاظ ودریده چې کیداي شي دامریکا په سیاست کي په دې اړه حرګند تغیرات رامینځ ته شوي وي او دغه تغیرات دامریکا په مشرتابه پوري منحصر ؤ .

په شوروي اتحـاد کي دمیخائیل ګرباچوف دواکمني پـه وخت کي دنوموړي یومهم کارداؤ چې نومـوړي دکمونست ګوند په سیاسي بیرو کي دافغانستان، ایران، چین اوستراتیژیکي وسلو په اړه یوکمیسیون ټاکلي ؤ،

کوم چې پـه نړیوال ډګرکي په دغومهمومسئلو دقیق غوراوبحث کاوه اودبریژنیف دزماني دپاتې شویو اشتباه ګانو درفع کولو پخاطر بـه ئې لاري لټولي .

(نوربیا)

شهادت

سه شنبه (۱۷) میزان ۱۳۷۵

افغانستان د ټولو مسلمانو افغانانو ګټه کوي

دشهادت ورځپاڼي درنو او محترمو کارکوونکو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته !
خداي (ج) مو د صحت په جامو ملبس اودحق دخدمت لپاره رانغښتي همځي توري هم مضبوطي لره.

درنو ورونو! لکه چي تاسي ته بهتره معلومه ده چي په افغانستان کي دقطبي خرسانو له ګونډه کېدلو وروسته داسلامي نظام دحاکمیت ویښي راوالوتي نونړیوال ښکیلاك په دي پوه شو چي اوس په افغانستان کي داسلامي شریعت نفاذ ددوي باطلوعقیدو اوعنعنو لپاره دخطرزنګ دي نوبه خپل ټول توان اوطاقت سره يي داسلامي نظام دمختیوي لپاره دسبي اوپلمي په کارواچولو د اسلامي انقلاب سپاهیانو اودیوه سنګر ملګروته يي دنفاق دطاغوت مکروبونه اوجراثیم زرق کړل په یویل دبي اعتمادي اونا باوري په سمندرکي يي ډوب کړل داسلام ددښمنانو داخوځښتونه نوریت اودپردي ترشا پوري منحصر نه شول بلکه هرعقل خاوند په ډاګه لیدل داهم جوته ده چي زموږ دجهادي زعامت اکثره مشران چي له سیاسي درایت اوکفایت نه محروم وو اودقضایادعمق ته نتوتل ورته محال وو دي مهمي پدېدي ته يي په پیل کي په سطحي نظروکتل خوکله چي پوه شول نوبیا وخت تري تیرو او حتي مشران چي لله الحمد هروخت يي له پېښوسره مناسب برخورد کړېدي دجهاد په دري لسیزوکي يي دحوادثو په وړاندي دکفایت او استعداد مظاهره کړېده هغوي دي خطرته په هماغه وخت کي متوجه وو اوهروخت يي ولس اومجاهد ملت دي ته متوجه کړي دي خوځه ناپوه دوستان رو او ځـه هم هوښیار دښمنان چي هروخت يي ددوي په مخ کي خنډراپیداکړېدي ستونزي يي ایجاد کړېدي تردي چي د هیواد روان ناورین يي پایله اونور هم حالات ورځ په ورځ کړکیچن کیږي .

ماچي دافغانستان دروان کړکیچ دصحني ګوښاهد په توګه هروخت حالات له نژدې څارلي دي دې نتیجي ته رسیدلي یم چي دافغانستان دجګړي حل له نظامي لاري ناشوني کاردي ځکه تجربي دادعوه ثبوت کړېده جګړه وازمویل شوه او (ازموده راازمودن خطا است).

زما توصیه طالبانوته داده چي له خپلومخالفینو سره دمذاکراتو اوتفاهم لاره رانیسي دجګړي په اوږدسولي اوبه وشیندي نورافغانان له جګړو نه ستړي شویدي دیوي دقیقي جګړي دتحمل اوزغم توان هم نـه لري کـه دوي په ریښتیا هـم دافغان ولـس دنجات اوخلاصون لـپاره راپاڅـیدلي وي نودانجات اوخلاصـون خودجګړي له لاري ممکن نـه دي طالبان دي خپل شعاریه عمل کي وښیئ افغانانوته دي عملي ثبوت ورکړي که دوي یوازي امنیت پلمه کوي نوتش امنیت خوچانه نه ډوډي ورکولي شي اونه اوبه نه دچالوخ بدن پټولي شي اونه .... افغانان دمخمصي په حالت کي دي ټول ملت له انقلابیون سره مخ دي که طالبان دنجات عملیه وي نودافغانانو دملي توامیسوساتنه دي وکړي دهیواد له شلیدلي ټټر ځخه دي ددښمنانو لاسونه لنډکړي دوي باید هوښیار واوسي چي دپردیویه لاس کـي ونه لوبیږي دچالمـون ونـه مني دافغانانو دبیړي له طوفان ځخه بچ اودخلاصون ساحل ته بوزي .

اودادي هم نـه هیروي چي ملت دهمدي انګیزي لـه مخي دوي ته خوشبین دي اوددوي پرمختګونه هم دهمدي علت معلول اومحصول دي .

زه طالبانوته وایم کـه چیري دافغانستان قضیه دسولي اوتفاهم له لاري ژر حل نه کړي نو دوخت تیریدل اوځنډ ددوي په ګټه نه وي حالات به بالکل معکوس شي دجـګړي طول ددوي په صفونوناوړه اغیزي لري ددوي په صفونو کي اختلافات پیداکیږي په یواویل بي باوري پیداکیږي نو ښه داده چي له نوروسره ددښمني پـه ځای ددوستي لاس ورکړي افغانستان دټولو افغانانو کوردي کوم مشخص قوم که په ټولو افغانانو دحکومت اراده ولري دابه غلط فکروي غته خبره داده چي دیونظام په جوړولو کي دهرفن خاوند ته ارتیاده الحمدلله په هرډګرکي پیاوړه مسلمان افغانان شته چي لـه دوي نه کارواخلي که داسي ونشي نوخداي مه کړه نظام به جوړ نه بلکه نظام به دجوړولو په ځاي نورهم وران کړي ددي لپاره چي خبررانه اوړده ؤ- شي په پاي کي یوځل بیا دجګړي دواړو خواوو ځخه هیله کوم چي دجګړي ځخه لاس واخلي او دورووري په نغرسره کښیني .

والسلام مېوند دوست
له جلال آباد نه

شهادت او لوستونکي

قسمیکه لازم می بینید آنرابگوش مقامات برسانید

سلامهاي زیاد خودرا خدمت مدیرصاحب مسوول روزنامه شهادت تقدیم میدارم .

آرزومندم درخدمت مردم باشید واقعاً نشریه شمایگانه نشریه یي است که آزاد در دسترس مردم قراردارد. من یك موضوع را حضورشما مطرح مي سازم امید است قسمیکه لازم مي بینید آنرابگوش مقامات رسانیده نشرنمائید .

ما معتقدیم که شمامنحیث یك مسلمان واقعین هستید همیشه نشریه خوب تان ازنظرشما گذشته وبعداً به نشرمیرسد مطالب دلچسپي مي باشد. موضوع ازین قرار است : مامیدانیم که جهانیان بمردم رنجدیده وملت عذاب دیده مـا اشك میرزاند . اشکهاي شان باعث میگردد کـه باما همکاري اقتصـادي و مادي بنماید ما ازسازمان ملل متحد وهمه ممالك جهان که باماهمکاري مینماید خوش هستیم آنها ملیاردها دالـر ، ملیاردهاتن گندم، کارتنهاي ادویه و غیره مـواد کمکي بشمول کمپلها ، تجیرهـا وخیمه ها مساعدت نموده اند . ولي بااین هم مردم ما باگرسنگي فقر وبدبختي دچـار اند .

واقعاً مردم ماقابل ترحم اند . تاچه وقت جنگ وویراني ادامه یابد این خونریزي باید قطع شود. شما درمورد بیشتر و خوبتر میدانید حاجت بـه پرگفتن نابیست اصـل مطلب دراینجااست کـه ازین کمکهاي مادي واقتصادي استفاده سوء بعمل آمده ازگاویه اندازهٔ غدود هم براي مستحقین نمیرسد ونه هم داده مي شود .

این مساعـدتها نسبـت عـدم موجودیت حکومت مرکزي درافغانستان بدست عده یي از افراد ویاواضح بگوئیم بدست دفاتر چوروچپاول یعني انجوها(N.G.O) گذاشته مي شود قابل تذکر است که همه آنها شاید تحت نام دفاتر چوروچپاول نیاید بعضي شان ممکن است که تاحدي ازگردن بسته شدن ترس داشته باشد ولي بصورت عموم این مؤسسات که پیسه رااخذ مینماید ٪۸۰ آنرا بجیب خود وجیب شریکان مي ریزد . ٪۲۰ آن بخت وتوکل دراصل مرجع بمصرف رسیده ، باید تذکر داد که اولین شرط برسمیت شناختن این مؤسسات داشتن موترلکس ، دفترلکس وپرسونل لکس باشد همچنان شوشاي دفتر ، کمپیوتر، تیلفون وفاکس با ویدیو، ویدوکمره ها، وترین عکاسي مزین باشد تابتواند مراجع بودجه دادني که بیشتر آن مربوط به دفترملل متحد میگردد قانع ساخته وفند یابه اصطلاح مقداري از پیسه را باتقدیم پرپوزل خویش بدست آورد .

جناب مدیرصاحب،من اینطور اسناد وشواهدي هم دارم که همین مسوولین مؤسسات باعدهٔي ازقوماندانهاي محلي درداخـل دسـت یکي نموده پیسه اعمارمساجـد ، پاك کاري کاریزها، نهرها، ترمیم سرکهـا، جویها، حتي بندهاي جوي هـاي بزرگ دردفترملل متحد اخذ گردیده ولي متأسفانه که یك پیل هم به حساب کاریکه باید اجرامي شد زده نشده .

اکنون که هم مسوولین مؤسسات یاانجوها (N.G.O) مصـروف کارهاي متذکره مي باشـد ازایشان تقاضا داریم هرچه که شده وکرده اید آنرا توقف دهـید، خداوند را حاضر وناظردیده ازبودجه کـه در بدل خون شهیدومعلولین جهـاد بکشور ماداده شده جلواستفاده سوء را بگیرید اگرکسي مسلمان باشد اوبه این عقیده است که حساب وکتاب روزحشر خیلي حساس وسخت است نمیتوانیم خورد ترین گناه خویش را مخفي سازیم چه رسد به اینکه ملیارد ها دالر، کلدار وافغاني را بـه روز روشـن در حضورداشت مردم و شاهـدان عیني باجیب شریکان خویش غدر وخیانت نمائیم .

اگر خداناخواسته کسي ازحساب وکتاب روز قیامت ترس وبیم ندارد باانفاذ شریعت درکشور مااین حساب وکتاب ازآنها گرفتني است . درآن هنگام پشیماني فایده ندارد . والسلام

الله (ج) دي شهادت ورځپاڼه په خپل د ربځ ولاړه اوله سیالانوسره سیاله ولري

